

# آب

د اوبو چارو د تنظیم ملي اداري خپرووونکی ارگان

شماره هفتاد و یکم / حوت ۱۳۹۹ Faruary – March 2021



## د افغانستان جمهور رئیس جلالتمآب محمد اشرف غني لخوا د کمال خان بند پرانیست او گټې اخیستنې ته وسپارل شو.

### د اوبو د تنظیم او د ککړو اوبو د ویستلو مقرره د قوانینو کمېټې لخوا تائید شوه




### رئیس جمهور غنی: آب ما باید به موثرترین شیوه مدیریت شود



### د کمال خان بند د پرانیستې مراسمو کې د اوبو چارو د تنظیم د ملي اداري عمومي...






# نوی کال مو مبارک شه

تېر کال ښه و، خو راتلوونکی کال به د اوبو مدیریت لپاره بهترین کال وي.

که څه هم ۱۳۹۹ کال د نورو ګڼو ستونزو تر څنګ د کرونا ناروغۍ شدیدې څپې سره مل کال و، خو بیا هم د دې ټولو سره سره د اوبو مدیریت لپاره یو ښه کال و چې د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې په دغه کال کې خپله ۹۲ سلنه بودیجه په مصرف رسولې.

د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې په دغه کال کې وکولی شول چې په ډېرو پروژو چې چارې یې له ځنډ او خنډ سره مخ وې دوباره یې چارې پیل شي او په دې برخه کې د ډېرو پروژو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې چې د لویو، متوسطو او کوچنیو پروژو شمېر سلګونو ته رسیږي.

یو څه چې ډېر مهم او د وياړ کار وو هغه دا و چې په ۱۳۹۹ کال کې د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې لخوا د کمال خان بند چارې بشپړې او د وري میاشتې په ۴ نېټه به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي او د دې تر څنګ په کابل کې د شاه و عروس بند او په بدخشان کې د شورابک بند چارې بشپړې او په نږدې راتلوونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د دې تر څنګ په ۱۴۰۰ کال کې د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې په خپل پلان کې په سلګونه د بندونو، کانالونو، کاریزونو، چکډم، د اوبو مثنوي تغذیې او ګڼ شمېر پروژو نیولي چې د کال په پیل کې به په نوبت سره د یادو پروژو چارې پیل شي.

په اخر کې د نوي کال د را رسېدو له امله ټولو هېوادوالو ته د نېکمرغه کال مبارکي وایم، الله تعالی دې دغه کال په هېواد کې د سولې، یووالي، نېکمرغۍ او ورورولۍ پیلامه وګرځوي.
نوی کال مو مبارک شه
انجنیر خان محمد تکل
د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې عمومي رئیس

# رئیس جمهور غنی: آب ما باید به موثرترین شیوه مدیریت شود




محمد اشرف غنی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان که صبح امروز در راس یک هیات عالی رتبه دولتی به منظور افتتاح بند کمال خان، به ولایت نیمروز سفر کرده بود، پس از افتتاح بند متذکره در مراسم باشکوه که به اشتراک مقامات دولتی و بزرگان و متنفذین ولایت نیمروز در ولسوالی چهار برجک برگزار شده بود، اشتراک و سخنرانی کرد.

رئیس جمهور در سخنرانی خویش از تلاش ها و همکاری مردم به ویژه انجنیران، کارکنان و نیروهای امنیتی و دفاعی در زمینهٔ اعمار و حفاظت از بند کمال خان تشکر نموده، گفت که از خداوند متعال از صمیم قلب شکران می کنم که در اطراف ما آب است، نه سراب.

رئیس جمهور غنی ضمن تبریکی سال نو، قرن نو و زندگی نو، گفت که از نظر شکلی بند کمال خان یک بند آب است، اما این بند نماد ارادهٔ ملی مردم افغانستان برای احیای مجدد تاریخ و مجد درخشان تاریخ کهن ماست.

وی افزود که بند کمال خان یک وسیله است، اما هدف آن احیای نیمروز آباد، آزاد و مرفه در چوکات جمهوریت می باشد و امیدواریم که دیگر کلمه نیمروز محروم را نشنویم. افتخار دارم که امروز آرزوی افغان ها پس از قرن ها به حقیقت پیوست.

رئیس جمهور تصریح کرد که دولت و مردم افغانستان نه تنها طرح، بلکه ارادهٔ تحقق آن را نیز دارند و امید است که ملت افغانستان در صد روز آینده شاهد تحقق پروژه های مهم زیربنایی در سراسر کشور باشند.

رئیس جمهور غنی، گفت که باید طرح واضح اتکا به خود را داشته باشیم و افغانستان بعد از این نباید دست گدایی را دراز کند و نیاز مبرم است که سرمایه های پنهان خویش را به کار بیاندازیم.

رئیس جمهور کشور گفت که امروز اختیار آب هلمند به دست مردم ما قرار گرفت و در توزیع زمین بند کمال خان به مردم محل اولویت داده می شود.

رئیس جمهور خاطرنشان کرد که ما مانند بید به هر باد نمی لرزیم، آوازه ها و کاغذها می آیند، اما مردم افغانستان استوار در جای شان قرار دارند.

رئیس جمهور غنی گفت که اقتصاد افغانستان و ایران، متمم یکدیگر اند و آب را به هیچ کسی رایگان نمی دهیم و مردم نیمروز پیداوار شان را به افتخار به فروش برسانند.

رئیس جمهور تاکید کرد که در راستای منافع ملی به عقب بر نمی گردیم و در این راه، حتی سر خود را قربان می کنیم.

رئیس جمهور کشور در اخیر صحبت هایش بر مدیریت برق بادی و آفتابی نیز تاکید کرد و گفت که آب ما باید به موثرترین شیوه مدیریت شود و این موثریت دهها مرتبه باید بیشتر گردد و همچنان مرکز تحقیقات زراعتی و آبیاری در کنار بند کمال خان ایجاد شود.

در این مراسم، زمریالی احدی والی نیمروز در صحبت هایش، ضمن خوش آمدید به رئیس جمهور و هیات همراه اش، از قربانی های نیروهای امنیتی و دفاعی در راستای حفاظت بند کمال خان و همکاری مردم قدردانی کرده، گفت که تغییرات نسبی در نیمروز به میان آمده است و مردم با ادارهٔ محلی شان همکار هستند.

وی افزود که بند کمال خان نه تنها از نگاه اقتصادی و زراعتی تغییرات را خواهد آورد، بلکه نیمروز ارزش تاریخی خود را باز می یابد و به کندوی افغانستان تبدیل خواهد شد.

سپس داکتر فضل محمود فضلی رئیس عمومی ادارهٔ امور و رئیس کمیسیون افتتاح بند کمال خان، در مورد جشن ها و برنامه ها در سراسر کشور به مناسبت افتتاح بند متذکره، معلومات مفصل ارائه کرد.

وی افزود که امروز رئیس جمهور حکم ایجاد مدال شهید محمد موسی شفیق را امضا کرد و این مدال برای کسانی تفویض می گردد که در راستای مدیریت آب افغانستان تلاش نمایند. همچنان در ارتباط به بند کمال خان بیشتر از ۳۰۰ مقالات علمی و تحقیقی نوشته و چاپ شده است که برای شماری از نویسندگان، جایزه اهدا خواهد شد.

سپس خان محمد تکل رئیس ادارهٔ ملی تنظیم آب در صحبت هایش ضمن تبریکی بخاطر افتتاح بند کمال خان، از اراده، قاطعیت و تلاش های رئیس جمهور تشکر کرده، گفت که دورهٔ سکوت مدیریت آب خاتمه یافته است و آب های افغانستان مهار می شوند.

موصوف در رابطه به ظرفیت آب بند کمال خان و کانال های مربوطه آن معلومات داده، گفت که با افتتاح بند کمال خان، آرزوی دیرینه افغانها تحقق یافت. به تمام مردم افغانستان اطمینان میدهیم که پروژه های بزرگ آب در زمان تعیین شده و باکیفیت بهتر، تطبیق خواهند شد و این پروژه ها در سراسر کشور عملی می شوند. وی افزود که ۴۴ پروژهٔ آبی دیگر به گونهٔ متوازن در شماری از ولایات کشور در سال جاری تطبیق می گردند.

سپس بازمحمد ناصر رئیس شورای ولایتی نیمروز، فریده حمیدی نماینده ولایت نیمروز در ولسی جرگه، یوسف بارکزی به نمایندگی شورای سراسری مردم نیمروز و مولوی حزب الله سروری به نمایندگی از علمای این ولایت صحبت نمودند و ضمن تشکر از توجه خاص رئیس جمهور در زمینهٔ مهار آب ها، افتتاح بند کمال خان را افتخار افغانستان خواندند.

همچنان آنان خواست ها و پیشنهادات مردم نیمروز را در عرصه های مختلف با رئیس جمهور شریک ساختند و با اشاره به صلح، گفتند که باید طالبان از ویرانی و کشتن مردم افغانستان دست بردارند، خشونت را ختم کنند و با پروسه صلح یکجا گردند.

رئیس جمهور غنی و هیات همراه اش در پایان این مراسم، از بخش های مختلف تاسیسات بند کمال خان دیدن کردند.

# د کمال خان بند د پرانیستې مراسمو کې د اوبو چارو د تنظیم د ملي ادارې عمومي مشر انجنیر خان محمد تکل د وینا بشپړ متن



**بسم الله الرحمن الرحیم**

د افغانستان اسلامي جمهوریت جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني، د جمهوری ریاست د عالي مقام لومړی مرستیال جناب صالح صاحب، د جمهوری ریاست د عالي مقام دوهم مرستیال جناب دانش صاحب، د کابینې محترمو غړو، د نیمروز ولایت والي، د ولس درنو استازو، د ولایتي شورا وکیل صاحبانو، علماو، مشرانو، ځوانانو، د مدني ټولنو استازو، قهرمان امنیتي ځواکونو او د کمال خان بند قهرمانو انجنیرانو او مسؤلینو او د دغې تاریخي غونډې ټولو ګډونوالو السلام علیکم ورحمت الله و برکاتو له تاسو ټولو څخه د زړه له تله مننه کوم چې په نننې د ویاړ او غرور ډک پروګرام کې مو ګډون وکړ، لومړی تاسو ټولو ته د کمال خان بند د بشپړېدو مبارکي وایم.

دغه ستر ویاړ مو مبارک سه

اجازه راکړئ چې خپلې خبرې درته د جلالتماب ریس صاحب جمهور د ویاړ او غرور نه ډکې جملې باندی پیل کړم؛

اوبه زمونږ ابروده. دی د ویاړ نه ډکې جملی په اساس دا پر مونږټولو افغانونو فرض ده ترڅو دا ابرو (اوبه) وساتو او غوره مدیریت یی ترسره کړو او د اوبو ساتنه د هر هیواد وال دنده ده تر څو خپل مسئولیت د هېواد په آبادي او ښکلا کې اداء کړئ.

اجازه راکړئ چې د کمال خان بند په اړه لنډ معلومات درکړم؛

کمال خان بند چې؛ د تاریخ په مختلفو پړاونو کې پرې کار پیل شوی خو د ستونزو او د وخت تاړاکونو له امله یې چارې له ځنډ او خنډ سره مخ شوي.

په وروستي ځل یې چارې د هېواد جمهور رئیس جلالتمآب محمد اشرف په هدایت او ځانګړې پاملرنې سره د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې لخوا پیل شوې؛ چې دسونو کالو وروسته دا دی نن بشپړ او د افغانانو لویه هیله پوره شوه .

څرنګه چې د اوبو غوره مدیریت، کنترول او ساتنه د سیلابونو اغېزې کموي په همدې اساس د افغانستان دولت د کمال خان د کنټرولي او تنظیمونکي بند د پاتي کارونو د بشپړلو لپاره لاس په کار شو

د کمال خان بند د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې د اخیري لسیزي له مهمو لاسته راوړنو څخه شمېرل کیږي چی د ۱۱۱ میلیون ډالرو په ارزښت په دری فازو کی بشپړ شو چی ۵۲ میلیون مترمکعبه د اوبوذخیره به ولری او د کاله به ۲۷۸۸میلیون مترمکعب اوبه تنظیم او د نیمروز او ټول هیواد په سطحه د کرهنې په برخه کې او همدارنګه په نورو ټولنیزو برخو کې به د مثبتو تغیراتو شاهدان اوسو.

د کمال خان بند په تکمیل سره به پنځولیو جوړیدونکو کانالونو ته لکه؛

1- ترکو او قلعه افضل کانال چې ۴۹۷۰۰ هکتاره ځمکه خړوبوي،

2- قلعه فتح کانال چې ۳۸۵۰۰ هکتاره ځمکه خړوبوي،

3- شیراباد او امیران کانال چې ٦۰۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبوي،

4- سیخ سار کانال ۴۲٦۳۷ هکتاره ځمکه خړوبه کوي

او اوبه برابري کړي.

په ټوله کی به کمال خان بند د نیمروز په ولایت کې ۱۷۴ زره هکتاره ځمکه خړوبه کړي او زرنج ښاره ته به د څښاک پاکی اوبه او ۹ میګاواټه برق تولید او ٦٩٦ زره نفره به په مستقیم او غیر مستقیم ډول له یاد بند څخه ګټه تر لاسه کړي.

د اقلیم تغیر او پرلپسې وچکالي، د نفوسو زیاتوالی په نړیواله کچه په یوه لویه اقتصادي او اجتماعي ننګونه بدل شوي دي. د اوبو په مهارولو، غوره مدیریت، او د اوبو د ضایعاتو په مخنیوی سره کولای شو ترقي او پایداره پراختیا را منځ ته کړو او پخپل ځان بسیا شو.

زموږ هېواد د هلمند له سیند څخه چې د هیواد ملي شتمني ده، له همدې شتمني څخه کولای شو چې په ترقي،ثبات، ثابته پراختیا او د سیمې د ښکلا په برخه کي استفاده وکړو.

د بندونو اقتصادي او ټولنیز ارزښت د سیمې او هېواد لپاره ځانګړې ځای لري، په خاص ډول د کمال خان بند چې ګټه اخیستني ته سپارل کیږي، د دې تر څنګ د اوبو لګولو او اوبو رسولو شبکو تنظیم له کمال خان بند څخه د نیمروز ولایت خلکو ته زموږ په لومړیتوبونو کې قرار لري.

دا چی دی اخیرو کلونو کی د هلمند نړیوالې معاهدې ټولې مادې سل فیصده تطبیق سي د جلالتماب جمهور رئیس په خاصه توجو ټولې ستونزې سل فیصده د افغانستان د حکومت له خوا حل سویدي. او دا په تیرو ۴۸ کلونو کې د هلمند د معاهدې د تطبیق لپاره بې ساری پرمختګ دی.

د افغانستان دولت د نړیوالو قوانینو او شته معاهدې په نظر کې نیولو سره د خپلو اوبو مهار او مدیریت ته ژمن دی، چې په دې برخه کې هیڅ ګاونډی هېواد باید وېره ونلري.

افغانستان د اوبو د سرچینو او سټراتیژیک موقعیت په لحاظ ځانګړی ارزښت لري، چې دا ځانګړی موقعیت زموږ لپاره تازه د کار فرصتونه رامنځ ته کوي. تر څو په ځان بسیا واوسو.

که چیرته د اوبو سرچینې په منظمه او سیستماتیکه توګه مدیریت شي د ګران هیواد د اوسېدونکو لپاره به د وصل او یووالي یوه نقطه وي؛ خو تاسو ته ډاډ درکوم چې په دغه برخه کې د ګړندي ګامونو اخیستلو هوډ موجود دی او په عمل کې ثابت شوي.

همدارنګه د اوبو د مدیریت د سقوط دوره د جلالتماب جمهور ریس په ځانګړی توجو له منځه تللی ده او دی اخیرو کی د انکشاف ملي شرکت په ایجاد او د دې طریق د اوبو مدیریت به یو بې ساری او تاریخي پایلې ولري .

خوشحاله یم چې د اوبو مدیریت په برخه کې را سره د یوې پیاوړې ارادې ولسمشر یو ځای دی او ملاتړ مې کوي.

زما په ټول ماموریت کې د جلالتمآب ولسمشر یوه خبره ډیره سترګو ته کیږي او همدا مې هڅوي چې د خپل ټیم سره د هېواد د اوبو مهار او مدیریت په برخه کې ډیر کار وکړم او ستړیاوې وګالو.

هغه دا ده چې یوه ورځ راته ولسمشر په خندا کې وویل ( له ما څخه مو د اوبو پروژو مدیر جوړ کړي.)

د درانه ولسمشر دې خبرې راته دوه پیغامه راکړل:

لومړی دا چې فکر کوم او خوشحالېږم چې د نور ټیم تر څنګ مې د هېواد با انرژي، با ارادي او پیاوړی ولسمشر تر شاه ولاړ دی او په دغه برخه کې هر ډول مرسته او ملاتړ مې کوي؛ په دې خبره ډېر خوشحالیږم او انرژي اخلم او له محبوب ولسمشر څخه مننه کوم چې د هېواد په سختو شرایطو کې یې د اوبو مدیریت د خپلو کارونو په لومړیتوب کې نیولی.

دویم پیغام ته زوربېرم کله کله فکر کوم چې ولسمشر سره د دومره لویو لویو مسؤلیتونو او جنجالونو چې ور تر غاړې دي؛ د اوبو مدیریت په برخه کې زموږ ډیرو کوچنیو ستونزو ته رسیدګي کوي؛ په ځان فشار راولي او همیشه دا موضوع لکه د هېواد امنیت او بهرنی سیاست تعقیبوي او ټینګار کوي چې د لویو بندونو جوړولو او د اوبو مهارولو ته پاملرنه او چارې یې چټکې شي؛ پر ځای د دې چې دا کارونه باید د ادارو اوسنیو او تېرو مسؤلینو کولی.

د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې په استازولی د هېواد جلالتمآب ولسمشر او ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکوم چې د اوبو ټولې لوې پروژې به په خپل وخت او ښه کیفیت تر سره کیږي او د هېواد لوې بندونه به یو په بل پسې ګټې اخیستنې ته سپارل کیږي.

دا چې په تېرو څو کلونو کې په دغه برخه کې څومره کار شوی په لنډ ډول یې ستاسو حضور ته وړاندې کوم.

۱ -د اوبو د یومنظمی د هایدرولوژیکی او میترولوجیکی نظارتي شبکو جوړول چی د منطقی په کچه یی ساری نشته.

۲ -په پنځه حوزو کې د ۳۵ خودکار ستېشنونه او ۳۰ کیبلي ستېشنونو او ۱ د یخچالونو نظارتي استېشن لګول.

۳ -د شاوخوا (۱۷۲) تحقیقاتي څاګانو جوړول.

۴ -اوسمهال د هېواد په مختلفو ولایتونو کې په ۱۲ لویو بندونو( کجکي، کمال خان، شاه و عروس، پاشدان، شورابک، بخش آباد، مچلغو، دهنه دره، خان آباد۲، توری، پلتوني، شفلوغ، سراب...) کار روان چې د هغو له جملې څخه یې دا دی کمال خان بشپړ، شاه او عروس او شورابک به هم ډېر ژر بشپړ سي.

*د ۴۴ نورو بندونو د سروې، ډیزان او ساختمان چارې به دمتوازن انکشاف په نظر کی نیولو سره په ۲۷ ولایتونو کی راتلوونکي کال پیل سي.

*همدارنګه د استرالیاي فورټسکیو کمپنی سره مو خبرې رواني چې له مخې به یې د هېواد په لویو بندونو د هغوئ لخوا د خصوصی سرمایه ګزاری له لاری کار پیل کیږي؛ په دغه برخه کې یوه تفاهم نامه لاسلیک شوې او کوښښ کو چې ورسر نتیجې ته ورسیږو.

*د یادونې وړ ده چې د ۱۲ بندونو په بشپړېدو سره به ۵۵۰،٦۵۳.۰۰ هکټاره ځمکه خړوبه سي او ۲۰۱.۷۰ مېګاواټه بریښنا به تولیدوي.

همدارنګه د اوبو مدیریت او مهارولو په برخه کې په سلګونو مختلف ډوله پروژو کار روان دی چې په زرګونه افغانانو ته د کار زمینه مساعده شوې دی.

په اخر کې دومره وایم چې د جلالتمآب ولسمشر په امر او د ده تر رهبری لاندې به د افغانستان اوبه مهار کیږي او په راتلوونکي کې به د هېواد اوبه د ګاونډیانو د تیلو په ارزښت نورو ته ورکول کیږي.

په اخر کې خپلې پردې لاندې شعر سره رالنډوم چې:

دلته دومره اوبه نشته چې څوک وکړي ګلونه
دلته غرونه غرونه واورې، دلته واورې واورې غرونه
ژوندی دې وي افغانستان
تل دې وي جمهوریت

# د اوبو د تنظیم او د ککړو اوبو د ویستلو مقرره د قوانینو کمېټې لخوا تائید شوه



د کابینې د قوانینو کمېټې ناسته و د ولسمشر د دویم مرستیال استاد سرور دانش په مشرۍ نن له غرمې وروسته په ګلخانې ماڼۍ کې تر سره شوه.

په دغې ناسته کې د عدلیې وزیر لخوا د اوبو د تنظیم او د ککړو اوبو ویستلو مقررې طرحه وړاندې شوه چې یاده مقرره د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې لخوا جوړه شوې.

دغه مقرره د ککړو اوبو چارو مدیریت، خصوصي سکټور ته د شراکت زمینه برابرول، چاپېریال ساتنې، د ککړو اوبو ویستلو او تصفیې او د چارو راټولو په موخه په ځلور دېرش مادو کې ترتیب او تنظیم شوې.

د جلسې غړو د دغې مقررې د برسي تر څنګ د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې، ښاروالیو، د ښاري ککړو اوبو مدیریت په برخه کې د خصوصي سکټور په مکلفیتونو او همدارنګه په ټوله کې یې د چاپېریال ساتنې په برخه کې د ښاریانو په مکلفیتونو په اړه بحث او د نظرونو تبادله وکړه.

په اخر کې د بحث وروسته چې د ناستې د غړو لخوا تر سره شو، د اړونده ادارو له اصلاحي نظریاتو وروسته یاده مقرره د قوانینو کمېټې لخوا تائید شوه.

# جلسه هماهنگی میان اداره ملی تنظیم امور آب و اداره انکشاف زون پایتخت برگزار شد



این جلسه با حضور محترم انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب، نجیب الله شینواری رییس عمومی اداره انکشاف زون پایتخت، شماری از مشاورین و روسای هر دو اداره در اداره ملی تنظیم امور آب برگزار گردید.

در این جلسه پیرامون هماهنگی وهمکاری های مشترک هردو اداره در راستای مدیریت منابع آب شهر کابل و سایر شهر های اطراف پایتخت بحث و تبادل نظر شد.

محترم انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب ضمن یادآوری از اهمیت موضوع مدیریت منابع آبهای زیرزمینی شهر کابل، به هماهنگی و همکاری هر دو اداره تاکید نموده مدیریت آب را یک مسوولیت مشترک بیان کرد.


در همین حال نجیب الله شینواری رییس عمومی اداره انکشاف زون پایتخت از ایجاد هماهنگی و همکاری مشترک میان این دو اداره استقبال نموده به تداوم این همکاری تاکید کرد.


در ادامه شماری از مشاورین، و روسای ادارات پیرامون موضوعات وابسته‌گی پروژه‌های انکشافی و پروژه‌های مدیریت منابع آب با یکدیگر، چگونگی ایجاد هماهنگی خوبتر و همکاری مشترک هر دو اداره، نظرات و پیشنهادات شان را ارایه نمودند.

در اخیر فیصله بر این شد که تیم مشترک روی یک تفاهمنامه همکاری کار نمایند تا هرچه زود تر به واسطه‌ی این تفاهمنامه چگونگی هماهنگی و همکاری میان هر دو اداره را مشخص گردد، همچنان یک تیم تخنیکی دیگر ایجاد شود تا همکاری مشترک در راستای تبادل معلومات تخنیکی و هماهنگی های لازم را آغاز نمایند.

# اعلامیه دفتر مطبوعاتی معاونیت اول ریاست جمهوری اسلامی افغانستان

۱۳ حوت ۱۳۹۹




خطرات کم‌شدن آب‌های زیرزمینی در شهر کابل

افغانستان از نظر جغرافیایی در بخشی از کمربند خشک و نیمه خشک جهان قراردارد که خشکسالی‌های متداوم، اثرات ناگوار تغییرات اقلیمی و استفاده بی‌رویه از آب‌های زیرزمینی - قشر آبدار (اکوفر) را به صورت تدریجی تخلیه و یا خشک گردانیده‌است. سطح آب‌های زیرزمینی نزول و خطرات کمبود آب در شهرهای بزرگ در سال‌های آینده به بحران جدی و کلان مبدل خواهد گردید.

رشد سریع نفوس در شهر کابل، ساخت‌وساز بلندمنزل‌های غیرپلانی و غیرمعیاری و انکشاف شهر - بدون درنظرداشت چارچوب طراحی شهری و استفاده بی‌رویه شهروندان در بعضی قسمت‌های شهر کابل از منابع آب زیرزمین از جمله دلایلی اند که باعث اُفت شدید کمی و کیفی در منابع آبی زیرزمینی شده‌است. پیامدهای ناگوار آن به صورت تخریب کیفی آب زیرزمینی و نشست سطح زمین و بلاخره فاجعه بزرگی رونما خواهد گردید.

بصورت مجموعی مصرف سالانه آب‌های زیر زمین برای پنج و نیم ملیون باشنده شهر کابل ۱۰۰ ملیون متر مکعب است، که در حدود شصت ۶۰ ملیون متر مکعب آب را دوباره منابع زیر زمین از باران‌ها تغذیه نموده و در نتیجه همه ساله کاهش ۴۰ ملیون متر مکعب آب در بیلانس را داریم، که با ادامه چنین حالت شاهد فاجعه کمبود آب آشامیدنی در سال‌های پیش رو خواهیم بود.

در یک دهه گذشته، به‌صورت اوسط اُفت آب‌های زیرزمینی در سطح شهر کابل ۱۲ متر ثبت شده که ساحه خیرخانه با اُفت ۴۵ متر، علاوالدین با ۲۴ متر و افشار ۱۳ متر در ردیف‌های اول الی سوم خط سرخ از نگاه پائین آمدن سطح آب‌های زیر زمینی اند.

تمرکز بیشتر دولت افغانستان برای جلوگیری از ساخت‌وساز بلند منزل‌های غیرقانونی و بیرون از چارچوب طراحی شهر کابل و اعمال جریمه‌های کمرشکن برای کم‌کردن تراکم نفوس در ساحاتی که کاهش و تخلیه طولانی مدت آب‌های زیرزمینی در سفره آب‌ها باعث فرونشست زمین و آسیب‌های زیرساختی منجر می‌شود، است.

معاونیت اول ریاست جمهوری اسلامی افغانستان

در هماهنگی با ادارات ذی‌ربط، مدیریت آب شهرهای بزرگ کشور و خاصتا شهر کابل را جدی مورد توجه قرارداده و اجرای طرح‌ها و راهکارهای جامع برای حل معضل کمبود آب آشامیدنی و تغذیه مصنوعی بیلانس منفی آب‌های زیرزمینی را عملی خواهد ساخت.

علاوه بر تلاش‌های دولت جمهوری اسلامی افغانستان، از تمام شهروندان مسوول خواهشمندیم که به سهم خویش در قسمت صرفه‌جویی و استفاده آگاهانه آب‌های سطحی و زیرزمینی دقت نموده و نعمت الهی در کره زمین را بی‌رویه هدر ندهند

# د (اوبو معلوماتي ملي سيستم) پروژې د رهبرۍ او څارنې کميټې لومړنۍ جلسه تر سره شوه



د هبواد د اوبو معلوماتي ملي سيستم را منځته کولو پروژې د رهبرۍ جلسه د اوبو د چارو د تنظيم ملي ادارې لوی رئيس انجنير خان محمد تکل په مشرۍ او په کابل کې د استراليا سفارت سرپرست، د دولتي ادارو استازو، د ملاتړو کوونکو ارگانونو استازو، د اوبو د چارو د تنظيم ملي ادارې رئيسانو او متخصيصينو او د استراليا نړيوال ارگان CSIRO متخصيصينو په شتون کې تر سره شوه.

په دغه جلسه کې د اوبو د چارو د تنظيم ملي ادارې؛ د CSIRO نړيوال ارگان او اړونده ملي او نړيوالو ادارو متخصيصينو د اوبو معلوماتي ملي سيستم په را منځته کولو او تخنيکي او مديريتي ابعادو خبرې او د نظرونو تبادله وکړه.

د اوبو د چارو د تنظيم ملي ادارې لوی رئيس ښاغلي انجنير خان محمد تکل د اوبو سکټور په برخه کې د استراليا هېواد له تخنيکي مرستو څخه مننه وکړه او د اوبو معلوماتي ملي سيستم را منځته کولو په برخه کې چې د هېواد پر کچه يو له اساسي اړتياو څخه ده د ټولو ملاتړو ادارو د همکارۍ او همغږۍ غوښتنه وکړه.

همدارنگه په کابل کې د استراليا سفارت سرپرست د اوبو معلوماتي ملي سيستم را منځته کول له ارزښت وړ وبله او د استراليا هېواد د دومداره مرستو ژمنه يې وکړه.

# جلسه به منظور بحث در مورد پالیسی ملی مدیریت سیلاب ها و خشکسالی برگزار شد




جلسه رهبری پروژه ایجاد سیستم ملی معلوماتی آب کشور بصورت آنلاین تحت رهبری محترم انجنیر خان محمد تکل ریس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب و سرپرست سفارت آسترالیا در کابل با حضور نمایندگان ادارات دولتی ، نمایندگان نهاد های تمویل کننده ، تعدادی از رؤسا و متخصصین اداره ملی تنظیم امور آب و متخصصین نهاد بین المللی CSIRO آسترالیا برگزار گردید.

درین جلسه متخصصین نهاد بین المللی CSIRO ، اداره ملی تنظیم امور آب و ادارات ذیربط ملی و بین المللی پیرامون ابعاد مدیریتی و تخنیکی ایجاد سیستم ملی معلوماتی آب بحث و تبادل نظر نمودند.


محترم انجنیر خان محمد تکل رئیس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب از همکاری های تخنیکی کشور آسترالیا در بخش سکتور آب تشکری نموده و خواهان همکاری و هماهنگی سایر نهادهای تمویل کننده در قسمت ایجاد سیستم ملی معلوماتی آب که یکی از نیازمندی های اساسی به سطح ملی

Faruary – March 2021

شماره هفتاد و یکم / حوت ۱۳۹۹

# مشرانو جرګې د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې کړنې او فعالیتونه وستایل او دغه اداره یې یوه نوښتګره اداره یاده کړه









د افغانستان ملي شورا د مشرانو جرګې دویم نایب لخوا د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې لوی رئیس انجنیر خان محمد تکل د غور، بامیان او دایکندي ولایتونو د ستونزو د حل په موخه د دغې جرګې مقام ته بللی وو، چې په یادو ولایتونو کې یې د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې د کړنو او فعالیتونو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل؛ چې په پایله کې د دویم مرستیال ښاغلي الحاج محمد اکبر ستانکزي لخوا د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې د کړنو او فعالیتونو قدرداني وکړه.

د مشرانو جرګې دویم نایب ښاغلي ستانکزي د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې لوی رئیس ښاغلي تکل ته په اشارې وویل، دا چې ستاسو کړنې افغانستان شموله او اداره مو له سیاسي ادارې څخه په یوې ولسي ادارې بدله کړه مشرانو جرګه مو د دغه غوره فعالیتونو قدرداني کوي او د الله تعالی له در بار څخه درته د لا ډیر خدمت هیله کوي.

په ورته وخت کې په مشرانو جرګه کې د غور ولایت استازي محمد داود غفاري؛ د بامیانو ولایت استازي قیس وکیلي او د دایکندي ولایت استازي محمد رحیم حسنیار په نوبت سره د خپلو ولایتونو ستونزې د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې عمومي رئیس سره شریکې کړې او د اوبو پراختیای پروژو د تطبیق په برخه کې یې د لا ډیرې پاملرنې غوښتنه وکړه او تر څنګ یې د متوازنې پراختیا په برخه کې د دغې ادارې کړنې وستائیلې.

ښاغلي تکل لومړی د غور، بامیان او دایکندي ولایتونو کې د اوبو پراختیای پروژو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او د ولس استازو سره یې ژمنه وکړه چې په راتلوونکي کې به دغه ولایتونو ته ځانګړې پاملرنه کیږي او زیاته یې کړه چې د هېواد جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني د هدایت سره سم به هغو ولایتونو ته زیاته پاملرنه کیږي چې په تېرو کلونو کې ورته څومره چې اړتیا وه پاملرنه نه ده شوې او د اوبو مدیریت په برخه کې ورته کار نه دی شوی.

ښاغلي تکل په خپلو خبرو کې د مشرانو جرګې له مشرتابه او په ځانګړي ډول له دویم نایب ښاغلي ستانکزي او نورو استازو څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه چې د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره په هېواد کې د اوبو مهار او متوازنې پراختیا ته ژمنه ده، هغه وویل دغه اداره به هېڅکله د ولس باور زیانمن نه کړي؛ خپلې چارې به په ښه کیفیت، پر وخت او د هېواد سرلوړۍ لپاره تر سره کوي.

د یادونې وړ ده چې وخت نا وخت د مشرانو جرګې په ګډون یو شمېر نورو مهمو دولتي او غیر دولتي ارګانونو لخوا د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې او د دغې ادارې د مسؤلینو فعالیتونه ستایل شوي.

د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره د هېواد په ۳۴ ولایتونو او ټولو ولسوالیو کې د اوبو مدیریت په برخه کې لوې بندونه، کانالونه، کاریزونه، چکډم، جذبي څاګانې، ګبیونې او استنادي دېوالونه او نورې پروژې تر لاسه لاندې لري.

# نشست مشترک میان روسای عمومی اداره ملی تنظیم امور آب و اداره ملی حفاظت محیط زیست برگزار گردید



این نشست به منظور هماهنگی هردو اداره در برگزاری مراسم افتتاح بند کمال خان، و همکاری های مشترک جهت تطبیق پروژه های مدیریت آب و بهبود محیط زیست، با حضور محترم انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب و شاه‌زمان میوندی رییس عمومی اداره ملی حفاظت محیط زیست برگزار شد.

محترم انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب در این نشست، همکاری مشترک هردو اداره را در راستای انکشاف مدیریت آب و بهبود محیط زیست ضروری بیان کرده از هرگونه همکاری مشترک در راستای اشتراک اطلاعات پروژه ها، پلان ها و سایر همکاری های تخنیکی به رییس عمومی اداره ملی حفاظت محیط زیست اطمینان بخشید.

در همین حال آقای میوندی از کارکردهای رییس عمومی اداره ملی تنظیم امورآب اظهار قدردانی نموده دستاوردهای مقام رهبری اداره ملی تنظیم امور آب را همه شمول و بی نظیر خواند.

در اخیر هر دو جانب به همکاری مشترک در راستای انکشاف و شگوفایی کشور تاکید نمودند.

# نړیوال بانک د اوبو د تنظیم څانګې سره انلاین جلسه تر سره شوه



د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري لوی رئیس ښاغلي انجنیر خان محمد تکل په مشری چې د دغې اداري تخنیکي مرستیال انجنیر احمد ویس بصیري او د مقام ارشد سلاکار انجنیر نجیب احمد شیرزاد ګډون درلود، د نړیوال بانک د اوبو د تنظیم څانګې سره په انلاین بڼه د همغږۍ جلسه تر سره شوه.

په دغه ناسته کې د اوبو پالیسي، د اوبو ستراتیژیکو پروژو د تطبیق، د ډونرانو جلبولو، د پنج امو سیند ماسټر پلان تطبیق او یو شمېر نورو اړینو موضوعاتو په اړه بحث او د نظرونو تبادله وشوه.

په پیل کې د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري لوی رئیس ښاغلي انجنیر خان محمد تکل ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ، د نړیوال بانک له مرستو چې د کلونو راهیسې د اوبو مدیریت په برخه کې له افغانستان سره کړي مننه وکړه.

وروسته په افغانستان کې د نړیوال بانک لخوا په تر سره شویو فعالیتونو، راتلوونکو پروګرامونو او د پنج امو د ماسټر پلان په تطبیق چې د افغانستان، ازبکستان، ترکمنستان او تاجکستان هېوادونو ګډه پروژه ده چې د یادو هېوادونو او نړیوال بانک په همکاری به په سیمه کې تطبیق کیږي هر اړخیز بحث وشو.


په ورته وخت کې په افغانستان کې د اوبو په برخه کې د نړیوال بانک مسؤلې اغلې سناء اَغا النمر او مرستیال یې انجنیر میر احمد احمد د نړیوال بانک په استازیتوب د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري رهبری ته د هر ډول مرستې او د پنج امو د ماسټر پلان د تطبیق ډاډ ورکړ.

د یادونې وړ ده چې نړیوال بانک د شلو کلونو را پدیخوا په افغانستان کې د اوبو مدیریت پراختیاي پروژو تر څنګ په مختلفو برخو کې مرستې کړي او خپلو مرستو ته دوام ورکوي.

# د هېواد د اوبو په مدیریت کې د ناکامورا لاره دوام لري



دغه کنفرانس د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې او د جایکا JICA ادارې تر منځ د اوبو لګولو په برخه کې د ناکامورا د طرحو عملي کولو او د ناکامورا د نیمګړو کارونو پوره کولو په موخه  تر سره شو.



دغه غونډه د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې عمومي رئیس ښاغلي انجنیر خان محمد تکل په مشرۍ تر سره شوه چې د دغې ادارې د اوبو د تنظیم لوی رئیس انجنیر نعیم سالارزی، د اوبو لګولو او اوبو رسولو د تنظیم رئیس انجنیر وفي الله سیدي، د JICA ادارې ارشد سلاکار ډاکټر کنجي نګاتا او په افغانستان کې د JICAد دفتر مسؤلینو ګډون کړی وو، تر سره شوه.

په پیل کې ښاغلي تکل د ډاکټر ناکامورا د هڅو چې په ننګرهار، کونړ او نورستان ولایتونو کې یې د ځمکو خړوبولو او د کرنې پراختیا په موخه ترسره کړې دي؛ یادونه او ستاینه وکړه.

هغه وویل چې ډاکټر ناکامورا د اوبو مدیریت او ځمکو خړوبولو په موخه د هېواد په ختیځ  کې د ګمبیري دښتې لپاره د کونړ سیند څخه ۲۵.۵۱ کیلومټرو په اوږدوالي کانال جوړ کړی دی چې له امله یې ډېرې شاړې ځمکې زرغونې شوي دي.

ډاکټر ناکامورا یو قهرمان او په افغانستان مین شخصیت و چې د عمر زیاته برخه یې په افغانستان کې د کرنې پراختیا او غربت ختمولو لپاره مبارزه وکړه چې له همدې امله د افغانانو په مینځ کې د کاکا مراد په نوم یادېده.

په دغسې جلسه کې ډاکټر کنجی نګاتا وویل چې د JICAاداره غواړي د ډاکټر ناکامورا د اوبو لګولو سیستمونه د هېواد په نورو ولایتونو کې پلي کړي چې له دغې طرحې څخه موخه د اوبو غوره مدیریت، اوبو لګولو سیستمونو او تکنالوژی وده ده.

په پای کې ښاغلي انجنیر خان محمد تکل د JICA اداری د طرحی څخه هرکلی وکړ  او د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې په چوکات کې یې د ډاکټر ناکامورا تیم د جوړولو وعده وکړه چې دا تیم به د هېواد په نورو ولایتونو کې د ډاکټر ناکامورا د اوبو لګولو طرحه پلي کوي.

ښاغلی انجنیر خان محمد تکل همدارنګه زیاته کړه چې د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې د کنفرانسونو تالار به د ډاکټر ناکامورا د غونډو تالار په نوم ونومول شي.

# دو پروژه عام‌المنفعه در ولسوالی بگرامی ولایت کابل به بهره‌برداری رسید



این پروژه ها که شامل بازسازی یک کانال آبیاری به نام کانال پردل خان و یک پروژه اعمار چکدم می باشد از سوی اداره ملی تنظیم امور آب به منظور مدیریت آب، مهار سیلاب‌های موسمی، تقویت منابع آب‌های زیرزمینی و آبیاری زمین های زراعتی در قریه بت خاک ولسوالی بگرامی ولایت کابل تطبیق شده است.

کانال پردل خان حدود 1250 جریب زمین را تحت آبیاری قرار می دهد که به تعداد 10 هزار نفر به صورت مستقیم و 50 هزار نفر به صورت غیر مستقیم از آن مستفید شده اند.

همچنان پروژه چکدم قریه بت خاک دارای ظرفیت ذخیره 64000 مترمکعب آب می باشد که در کنترول سیلاب‌های موسمی و تامین آب آشامیدنی برای مواشی از اهمیت خاص برخوردار است.

# په هرات ولایت کې درې عام المنفعه پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې تخنیکي مرستیال انجنیر احمد ویس بصیري لخوا چې د دغه ولایت د ولس استازو، د هریرود مرغاب سیندیزې حوزې مسؤلینو، قومي مشرانو، علماء، ځوانانو، مدني فعالانو او د قراردادي شرکتونو مسؤلینو په شتون کې د هرات ولایت په ګذره او انجیل ولسوالیو کې د کانالونو بیارغولو درې پروژې(ګذره کانال، چغرتان کانال او تیزان کانال) ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

دغه پروژې د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې لخوا او د نړیوال بانک په مالي مرسته د اوبو مدیریت او کرنیزو ځمکو زیاتوالي په موخه تطبیق شوې.


د دغې پروژو په پلي کولو سره له ۱۵ زره هکتارو څخه زیاته کرنیزه ځمکه خړوبیږي چې ۲۷ زره کورنۍ به ترې ګټه پورته کوي.





د یادونې وړ ده چې په ملي شورا کې د هرات ولایت استازو، سیمیزو مسؤلینو او د هرات ولایت متنفذینو د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې تخنیکي مرستیال ته د یوې تقدیرنامې په ورکولو سره د دغې ادارې کړنې وستائیلې.

# په لغمان ولایت کې د شکرمان کانال چارې بشپړې شوې.



د شکرمان کانال د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې لخوا او د WFP ادارې په مالي مرسته د اوبو مدیریت، د کرنیزو ځمکو خړوبولو او خلکو ته د کارموندنې په موخه د لغمان ولایت په علیشنگ سیند باندې جوړ شو. چې ژر به گټې اخیستنې ته وسپارل شي.

شکرمان کانال چې د ۳۰۰ هکتاره کرنیزې ځمکې خړوبولو وړتیا لري؛ ۵۰۰ کورنی به ترې گټه پورته کوي او ۴۵۰ کسانو ته به د کار پیدا کولو کې مرسته وکړي.

# د کندز په ولایت کې د خوشتیپې کانال چارې بشپړې او گټې اخیستنې ته وسپارل شو.



د خوشتیپې کانال د بیارغونې پروژه د ۱۲.۸ کیلومتره اوږدوالي په اندازه د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې لخوا او د اوبو غوره مدیریت او د کرنیزو ځمکو زیاتوالي په موخه د کندز ولایت په خان آباد ولسوالۍ کې پلې شوه.

له دغه کانال څخه ۳.۶۹۰ (درې زره او شپږ سوه نوي) کورنۍ گټه پورته کوي.

# پروژه ۳ ستیشن هایدرومیترولوژی در ولایت کاپیسا تکمیل و به بهره برداری رسید



این پروژه از سوی اداره ملی تنظیم امور آب به منظور مطالعه، مدیریت، نظارت همه جانبه منابع آب، تثبیت پوتنسیل آبهای سطحي در آن ولایت تطبیق شده است.

قابل یاد آوری است که این پروژه با حمایت مالی بانک جهانی تطبیق شد.

Faruary – March 2021 شماره هفتاد و یکم / حوت ۱۳۹۹

# معاون تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب از جریان کار پروژه بند آبیاری و تولید برق پاشدان در ولایت هرات بازدید کرد

محترم انجینیر احمد ویس "بصیری" معاون تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب همرا با هیأت همراه شان از جریان کار پروژه‌ی بند آبیاری و تولید برق پاشدان بازدید نمودند.

آقای بصیری در جریان بازدید از پروژه‌ی بند پاشدان، هدایات تخنیکی لازم را به مسوولین بخش تخنیکی و شرکت قراردادی ارایه نموده، ضمن تاکید به تسریع جریان کار پروژه، از وکلای مردم در پارلمان و شورای ولایتی خواستار همکاری مردم و مقامات محلی در قسمت تامین امنیت پروژه شدند.



معاون تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب ضمن قدر دانی از همکاری مردم ابراز داشت" که اولویت برنامه های رییس جمهور محترم محمد اشرف غنی و انجنیر خان محمد "تکل" رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب مهار آب های کشور می‌باشد، در این راستا در ولایت هرات برنامه های وسیع و گسترده ای را روی دست داریم که با همکاری شما مردم عملی خواهد شد. همچنان آقای بصیری از روی دست داشتن کار پروژه بند کبگان ولایت هرات نیز یاد آور گردید

# د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې او د لوړو زده کړو وزارت تر منځ د همغږۍ جلسه تر سره شوه

د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې او د لوړو زده کړو وزارت تر منځ د ګډې همغږۍ، د علمي تجربو شریکولو او د همکارۍ تفاهم نامې لاسلیک کولو په موخه د همغږۍ جلسه د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې عمومي رئیس ښاغلي انجنیر خان محمد تکل او د لوړو زده کړو وزارت مرستیال ښاغلي عبدالتواب بالاکرزي په شتون کې تر سره شوه.



په دغه جلسه کې دواړو لورو د اوبو سرچینو وضعیت، د اقلیم بدلون، د اوبو مدیریت په برخه کې د علمي او عملي تجربو او د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې او د لوړو زده کړو وزارت تر منځ د ګډې همکارۍ تفاهم نامې په بدایه کولو په اړه خبرې او د نظرونو تبادله وشوه.

په دغې جلسه کې د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې عمومي رئیس ښاغلي انجنیر خان محمد تکل د اوبو چارو تنظیم قانون مطابق دغې ادارې سره د لوړو زده کړو وزارت له همکارۍ مننه وکړه او دغه همکاري یې د هېواد د اوبو مدیریت په برخه کې مهمه او ضروري یاده کړه.

په اخر کې دواړو لورو د دومداره مرستو په موخه د یوې تفاهم نامې په لاسلیک کولو ټینګار وکړ چې ژر به لاسلیک شي.















محترم انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب، انجنیر احمد ویس بصیری معاون تخنیکی و روسای مرکزی این اداره، به پیشواز سال نوی خورشیدی، جهت ترویج نهال شانی در کشور؛ نهالی را در حیاط اداره ملی تنظیم امور آب غرس نمودند.

رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب سال نو خورشیدی را یک سال پر از برکت، میمنت، و امنیت برای مردم افغانستان آرزو نموده ترویج نهال شانی را در راستای بهبود محیط زیست و زیبایی کشور مهم و ضروری خواند.

# انجنیر خان محمد تکل با 120 کارمند معرفی شده به کمپنی فورتسکیو دیدار کرد



کمپنی فورتسکیو که یک شرکت استرالیایی است پلان دارد تا در افغانستان بندهای بزرگ را اعمارنماید، همچنان به 120 کارمند جدید اداره ملی تنظیم امور آب در بخش بند سازی آموزش دهد.

کارهای ابتدایی پروسه استخدام این 120 کارمند انجام شده امروز به منظور معرفی اداره ملی تنظیم امور آب به تعداد 74 تن آنان خواسته شده بود تا برای آنان در مورد خط مشی اداره و روش اجراآت معلومات ارایه گردد.

در اخیر این برنامه محترم انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب با این کارمندان دیدار و برای آنان هدایت های لازم را ارایه نموده گفت:" در مورد بندهای افغانستان ، فرصتی که کمپنی فورتسکیو در اختیارتان قرار داده یک فرصتی طلایی است که می توانید از آن به خوبی استفاده کنید. من روند استخدام و آموزش شما را با کمپنی فورتسکیو و ریاست منابع بشری اداره ملی تنظیم امور آب از نزدیک دنبال می کنم. روند کار به خوبی و به موقع پیش می رود، اما امیدوارم که بیشترین استفاده را بکنید تا افغانستان بتواند در آینده متخصصان بیشتری در زمینه بند ها داشته باشد.

قابل یادآوری است که این 120 کارمند جدیدالتقرر به اساس هدایت مقام عالی ریاست جمهوری توسط کمپنی فورتسکیو در بخش بند های افغانستان آموزش میبینند، و پس از آن در چوکات تشکیلات اداره ملی تنظیم امور آب کار می کنند.

# د کندهار د دهلې بند د چارو چټکتیا په موخه د همغږۍ جلسه تر سره شوه




د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې د برنامو مدیریت په مشرۍ د کلو پراختیا وزارت او کرنې او مالدارۍ وزارت سره په همغږۍ د کندهار ولایت د هلې بند د چارو چټکتیا په موخه د همغږۍ جلسه تر سره شوه.

په دغه جلسه کې چې د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې د برنامو مدیریت مرکزي دفتر رئیس ښاغلی انجنیر سید مقیم سادات، د کلو پراختیا وزارت د برنامو مسؤل بریالی هلالي او د کرنې او مالدارۍ وزارت مسؤل سید مقصود هاشمي او د اړونده ادارو نورو مسؤلینو ګډون کړی وو چې د اړونده ادارو مسؤلینو لخوا په نوبت سره د خپلو کړنو راپور وړاندې شو او د دهلې بند د چارو په چټکتیا یې هر اړخیز بحث وکړ.

په دغه ناسته کې د دهلې بند د چارو په چټکتیا، د استملاک ستونزو حل او د کندهار ولایت مقام او د اړونده ادارو تر منځ په ښه همغږۍ ټینګار وشو تر څو د دغې لوی او ملي پروژې چارې چټکې او په خپل وخت ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

په ورته وخت کې د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې د برنامو مدیریت مرکزي د دفتر رئیس ښاغلي سید مقیم سادات زیاته کړه چې د پروژې د چارو ګرندیتوب لپاره باید د اړونده ادارو رهبریو او د کندهار ولایت مقام تر منځ ګډه ناسته تر سره شي او یو پلاوی وټاکل شي تر څو سیمې ته ورشي او چارې له نږدې وڅارې.

د یادونې وړ ده چې د دهلې بند چې یو له سترو او ملي پروژو څخه دی د کندهار ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې موقعیت لري چې اوسمهال یې په ځینو برخو کار روان دی چې په ۱۴۰۰ کال کې به یې چارې لا ګړندۍ شي.

**صاحب امتیاز: اداره ملی تنظیم امور آب**
**مدیر مسوول:** خواجه فقیر محمد "صدیقی"
**ادیتور:** نسرین "محمدی"و عبدالولی "نبی زاده"
**تحت نظر هیات تحریر:**
انجنیر همت الله "امین زی"
اسدالله "زیرک"
انجنیر میرویس "میرزاد"
سید عطاالله "صدیقی"
برکت الله "آریوبی"
نظام "خپلواک"
**گزارشگران:**
نعمت الله " اخلاقی" محمد انور "بارکزی"
**دیزاینر:** شبیر احمد "صالح"
**عکاس:** زهرا حیدری
**آدرس:** سرک عمومی دارالامان
**ایمیل آدرس:** chiefofstaff.nwara1398@gmail.com
**شماره تیلفون:** o202522472